د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

# د مور پلار
# درې حقونه

قسط
1

19 جون 2025



# د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

(1): په مختلفو موضوعاتو باندې مختصر بیان: 5 منټه (2): دُعا یادول: 5 منټه

(3): [د خپلو اعمالو] جائزه: 5 منټه، ټول وخت: 15 منټه۔

نن به د زده کولو او ښودلو په **حلقو** کښې **د مور پلار درې حقونه (قسط:1)** ښودلے شي او **د کُفر او فقر نه د پناه دُعا** به یادولے شي۔ په اخره کښې به د نیک اعمال رسالې نه اِجتماعي جائزه هم اخستے کیږي۔ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم!

## د دُرُود شریف فضیلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** په ما باندې دُرُود شریف لولئ، اللّٰه پاک به په تاسو باندې رحمت رالیږي۔ (1)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د مور پلار درې حقونه (قسط: 1)

## آیت مبارک

اللّٰه پاک فرمائیلي دي:

| | |
|---|---|
| وَ بِالْوَالِدَیْنِ اِحْسَانًا (پاره:2، سورۃ البقرہ:83) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او مور او پلار سره ښیګړه کوئ۔ |

## د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم درې کرته فرمائي: د مور پلار د نافرمانۍ نه بچ اوسئ! بے شکه د جنَّت خوشبوئي د زر [1000] کاله د لرې فاصلے نه بوئي

1...جامع صغیر ، صفحه:310، حدیث:5032۔

کيدے شي- پۀ خدائے مې دې قَسم وي--!! د مور پلار نافرمانه به د دې خوشبوئي هم قدرې نشي موندلے- (1)

## د مور پلار درې حقونه

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** الله او رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږ ته د مور پلار سره د نيکئ او د ښيګړې کولو حکم کړے دے- دا جنَّت ته بوتلونکے عمل دے- راځئ چې د مور پلار درې حقونه زده کړو:

**وړومبے حق:** اطاعت او تابعداري

**وضاحت:** د مور پلار هره يوه جائزه خبره منل فرض ده- (2) لهذا که مور پلار د څۀ خبرې حکم وکړي يا د څۀ خبرې نه منع وکړي نو فوراً د هغوئي خبره منئ! ادب هُم پۀ دې کښې دے چې روزانه پۀ وړو وړو کارونو کښې هم د هغوئي تابعداري وکړے شي، مثلا: ✿ مور جانې د بازار نه د څۀ راوړلو وفرمائيل، فوراً هغه راوړل ✿ بعضې وخت د بهر نه اوبه راوړل وي، دې د بهر نه د اوبو راوړلو ووئيل نو اوبه راوړل ✿ حکم يې وکړو چې موبائل مۀ استعمالوۀ! نو مۀ يې استعمالوئ! ✿ حکم وشو چې زر اوده کيږه ! نو زر اوده کيږئ ! غرض دا که مور پلار د راپاڅيدو ووائي نو بنده دې راپاڅي، که د کيناستو ووائي نو بنده دې کښيني- داسې دې پۀ هر يو کار کښې د هغوئي تابعداري وکړے شي- هم پۀ دې کښې ادب دے، او دا ضروري هم دے- که زمونږ د خبرې نۀ منلو پۀ وجه د هغوئي زړۀ ازار شو نو مَعَاذَ اللّٰه! الله پاک ناراضه کيدے شي- پۀ حديثِ پاک کښې دي: چا چې پۀ داسې حال کښې ماښام کړو چې د مور پلار پۀ باره کښې نافرماني کوي، د هغۀ د پاره د دوزخ دوه دروازې برسيره کيږي- (3)

---

1...معجم اوسط، جلد:4، صفحه:187، حديث:5664-

2...فتاوی رضويه، جلد:21، صفحه:157، بتغير قليل-

3...شعب الايمان، باب فی بر الوالدين، جلد:6، صفحه:206، حديث:7916-

**نوټ:** که مور پلار د څهٔ ناجائزه کار حکم وکړي نو پهٔ هغې کښې د هغوئي تابعداري جائز نهٔ ده ځکه د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حق د مور پلار نه زيات دے- البته پهٔ داسې حالت کښې هم د هغوئي د بے ادبئ اجازت نشته ، مثلاً مور پلار د ګيرې خريلو ووائي نو د هغوئي سره جنګ جګړه مهٔ کوئ ، پهٔ ادب سره معذرت وکړئ يا خاموشي اختيار کړئ-

**دويم حق:** مور پلار راضي کول

**وضاحت:** پهٔ فتاویٰ رضويه شريف کښې دي: مور پلار راضي کول واجب او ناراضه کول يـې حرام دي- پهٔ يو ځائے کښې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ليکلي دي: ناراضه کول او راضي کول د هغوئي د واضحه حکم سره خاص نهٔ دي [1] (يعني که مور پلار حکم نهٔ وي هم کړے خو چې پته درته اولګي چې پهٔ فلانکي کار کولو به هغوئي ناراضه شي نو بيا هم د هغه کار نه بچ کيدل ضروري وي)- اوس دې هر يو ګس غور وکړي چې زمونږ پهٔ کوم يو کار باندې مور پلار ته تکليف رَسي، پهٔ کوم باندې نهٔ رسي، مثلاً ❀ ځوي که سګريټ څښي او مور پلار ته د دې نه تکليف وي نو بيا دا ضروري دي چې دا سګريټ نهٔ څښي ❀ ځوي که د خرابو دوستانو سره کښيني او مور پلار ته يـې تکليف وي نو د مور پلار د راضي کولو د پاره د داسې دوستانو پريښودل ضروري دي ❀ دغه رنګ داسې کارونه کوم چې د مور پلار د بے عزتئ سبب ګرځي، مثلاً: د محلې نه د ځوي شکايتونه راتلل، د داسې کارونو نه بچ کيدل هم ضروري دي- پهٔ حديثِ شريف کښې دي: د الله پاک رضا د مور پلار پهٔ رضا کښې او د الله پاک ناراضګي د مور پلار پهٔ ناراضګئ کښې ده- [2]

**دريم حق:** د مور پلار خدمت کول

**وضاحت:** د خِدمت کولو مختلف صورتونه کيدے شي، مثلاً ❀ پهٔ هغوئي ښهٔ ښهٔ

---

1...فتاوی رضويه، جلد:10، صفحه:679، ملخصًا ـ

2...شعب الايمان: باب فی بر الوالدين، جلد:6، صفحه:177، حديث:7830ـ

خوراکونه کول ❁ ښېي لاسونه ورله چاپي کول ❁ سر ورله غوړول، مالش کول چې هغوئي دَمه شي ❁ د هغوئي د ضرورتونو خيال ساتل ❁ د هغوئي د خوښې څيزونه ورته حاضرول ❁ جامې پيزار وغيره ورله اخستل ❁ که بيماران شي نو دوائي وغيره ورله راوړل، د هغوئي د صحت د پاره دُعا کول ❁ د هغوئي سره کيناستل، خبرې ورسره کول، هغوئي له وخت ورکول ❁ د هغوئي مالي خدمت کول وغيره دا ټول د خدمت صورتونه دي- خاص طور چې مور پلار بوډاګان شي، بيا هغوئي د خدمتونو ډير محتاجه وي- پۀ مسلم شريف کښې دي: خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې کرته وفرمائيل: هغه ذليله او خوار دے، هغه ذليله او خوار دے، هغه ذليله او خوار دے- عرض وکړے شو: يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! څوک ذليله او خوار دے؟ اوئې فرمائيل: څوک چې خپل مور پلار [دواړه] يا پۀ دوئي کښې يو د بوډا والي پۀ حالت کښې بيامومي او (د هغوئي پۀ خدمت کولو سره) جنَّت ته داخل نۀ شي- (1)

## دوهرائي

مونږه نن د مور پلار دا درې حقونه زده کړل، پۀ ذهن کښې يــې کښېنوئ: (1): اطاعت او تابعداري (2): مور پلار راضي کول (3): د مور پلار خدمت کول-

## د ښودلو او زده کولو پۀ حلقو کښې يادولو والا دُعا

## د کُفر او د فقر نه د پناه دُعا

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْٓ اَعُوْذُبِكَ مِنَ الْكُفْرِ وَالْفَقْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ

ترجمه: اے الله! زۀ د کُفر، محتاجۍ او عذاب نه ستا پناه غواړم- (2)

---

1...مسلم، كتاب البر والصلة والآداب، باب رغم انف من ادرك ابويه...الخ، صفحه:991، حديث:2551-

2...سنن نسائی، كتاب السهو، باب التعوذ فی دبر الصلاة، صفحه:231، حديث:1344-

# د اِجتماعي جائزې طريقه (72 نيک اعمال)

## د روزانه 56 نيک اعمال:

(1): آيا ښه ښه نيتونه مو کړي؟ (2): آيا پينځه واړه نـمونځونه مو د جَمعې سره ادا کړي؟ (3): آيا د هر نـمونځ نه مخکښې مو د نـمونځ دعوت ورکړے؟ (4): آيا د شپې مو سُوْرَةُالْمُلْك لوستلے يا اوريدلے؟ (5): آيا د هر نـمونځ نه پس مو آية الـکرسي، تسبيح فاطمه، سُورَةالاِخلاص لوستلے؟ (6): آيا د کنزُ الايمان نه مو 3 آيتونه يا مو د صِراطُ الـجنان نه 2 صفحې د ترجمې او تفسير سره لوستلي يا اوريدلي؟ (7): آيا د شجرې اوراد مو لوستلي؟ (8): آيا 313 کرته مو دُرُود شريف لوستلے؟ (9): آيا سترګې مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (10): آيا غوږونه مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (11): آيا د فضول نظر نه په بچ کيدو سره مو نظر ښکته ساتلے؟ (12): آيا 12 منټه مو د مکـتبة الـمدينه اِصلاحي کتاب لوستلے؟ (13): آيا د اذان او د اِقامت جواب مو ورکړے؟ (14): آيا د غصې علاج مو کړے؟ (15): آيا خپله جائزه مو اخستې؟ (16): آيا د خپل نګران تابعداري مو کړې؟ (17): آيا په تاسو او جي وئيلو سره مو خبرې کړي؟ (18): آيا په مکـتبة الـمدينه بالغان کښې مو لوستلي، يا مو ښودلي؟ (19): آيا د ماسخوتن د جَمعې نه پس په دوو ګينټو کښې کور ته رسيدلي يئ؟ (20) : آيا دوه ګينټې مو په ديني کارونو باندې لګولي؟ (21): آيا د سحر د نـمونځ د پاره مو راپاخول کړي؟ (22): آيا د نورو کورونو ته مو د کتلو نه ځان بچ کړے؟ (23): آيا په کور کښې مو درس ورکړے؟ (24) : آيا د جومات درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (25): آيا د سُنَّت مطابق مو جامې اغوستې دي؟ (26): آيا د زلفو د پريښودو په سُنَّت باندې مو عمل کړے؟ (27): آيا يو موتے ګيره مو پريښودې؟ (28) : آيا د ګناه کولو په شکل کښې مو فوراً توبه کړې؟

(29): آیا د سُنَّت مطابق مو خوراک کړے؟ (30): آیا مسلمانانو ته مو سلام کړے؟ (31) : آیا څۀ نا څۀ مو پۀ سُنَّتو باندې عمل کړے؟ (32): آیا د ماسپښین سنتِ قبلیه مو د فرضو نه مخکښې ادا کړې؟ (33): آیا تهجد یا صلوٰةِ اللیل مو ادا کړې؟ (34): آیا د اَوَّابِیْن یا اِشْرَاق او څاخت نـمونځ مو کړے؟ (35):آیا د مازدیګر یا د ماسخوتن سُنتِ قبلیه مو ادا کړې؟ (36): آیا پۀ 12 دیني کارونو کښې مو د یو دیني کار ترغیب ورکړے؟ (37) : آیا د نورو نه غوښتلے شوي څیزونه خو مو اِستعمال کړي نۀ دي؟ (38): آیا د دروغو، غیبت او چغلی نه مو ځان ساتلے؟ (39): آیا د څۀ وخت د پاره مو مَدَني چینل کتلے؟ (40): آیا ذاتي دوستي خو مو نۀ ده کړې؟ (41): آیا پۀ وخت باندې مو قرض ادا کړے؟ (42): آیا د عاجزی داسې الفاظ خو مو نۀ دي وئیلي کوم چې زړۀ نۀ دي منلي؟ (43): آیا د صفایۍ او سلیقې خیال مو ساتلے؟ (44): آیا د مسلمانانو د عیبونو پرده مو ساتلې؟ (45): آیا د سحر د نـمونځ نه پس مو د تفسیر اوریدو /بیانولو پۀ حلقه کښې شرکت کړے؟ (46): آیا د څۀ نا څۀ جائز کار نه مو مخکښې بِسْمِ اللّٰه وئیلې؟ (47): آیا چوک درس مو ورکړے یا اوریدلے؟ (48): آیا مور پلار او پیر او مرشد ته مو ایصالِ ثواب کړے؟ (49): آیا د اِسْرَاف نه مو ځان بچ کړے؟ (50): آیا د ټریفک د قوانینو پابندي مو کړې؟ (51): آیا د تنظیمي طریقې مطابق مو مسئله حل کړې؟ (52): آیا د ژبې د ګناهونو نه مو ځان بچ کړے؟ (53): آیا د فضول خبرو نه مو ځان بچ کړے؟ (54): آیا د ټوقو ټقالو، خندا، زړۀ ازارولو او پۀ کړس خندا نه مو ځان ساتلے؟ (55): آیا عمامه شریف مو پۀ سر کړې؟ (56): آیا د مور پلار اَدَب مو کړے؟

## د قُفلِ مدینه کارکردګي

❀ پۀ لیکلو خبرې کول 12 کرته ❀ پۀ اِشاره باندې خبرې کول 12 کرته ❀ پۀ سترګو کښې د سترګو اچولو بغیر خبرې 12 کرته-

# هفته وار 9 نیک اعمال

**(57)**: آیا د اِسلامي خوئیندو هفته وارې اِجتماع ته مو څوک اِسلامي خور د کور نه لیږلې؟ **(58)**: آیا هفته واره مَدَني مُذاکَرَه مو کتلې یا اوریدلې؟ **(59)**: آیا پهٔ هفته واره اِجتماع کښې مو د اول نه تر اخره پورې شرکت کړے؟ **(60)**: آیا یومِ تعطیل اِعْتِکَاف مو کړے؟ **(61)**: آیا د مریض یا غم زپلې تپوس یا غم خورې او د چا پهٔ وفات کیدو مو تعزیت [لاس نیوه] کړې؟ **(62)**: آیا پهٔ هفته کښې مو پهٔ یوه ورځ کښې روژه نیولې؟ **(63)**: آیا هفته واره رساله مو لوستلې یا اوریدلې؟ **(64)**: آیا علاقائي دوره مو کړې؟ **(65)**: آیا محکښې راتلونکې او اوس د نهٔ راتلونکو اِسلامي ورونړو مو د دیني ماحول سره ترون پیدا کړو؟